# نن سبا کې د سپین زېړي درملنه کيږي

**Version pachto**



سپن زيړی یو داسې ويروس دی چې ستاسو پر ځيګر باندې حمله کوي. ځيګر زموږ د بدن لپاره حياتي غړی دی. که چېرې ناروغ وي، نشي کولئ په ښه توګه فعاليت وکړي.

ډيری وختونه، تاسو ډېر کم يا هېڅ اعراض او علايم نه لرئ. که چېرې يې ژر درملنه ونه شی، دا ناروغي کولئ شي ستاسو پر روغتيا باندې ډېر بد اثرات ولري.




سپين زيړی د وينې څخه وينې ته سرايت کوي. ترڅو دغه ويروس له يو بدن څخه بل بدن ته انتقال شي، بايد بدن ته د وينې له لارې د ننوتولو يو لاره موجود وي ( د ستنې يا پېچکارۍ ساحه، تناسلي يا جنسي اله او داسې نور)،




ترڅو په دې ناروغۍ اخته نه شئ، د نورو اشخاصو توکی يا شيان ( لکه د پاکوالي توکي، د ټاټو توکي، د نشه یی توکو وسايل او داسې نور ) مه استعمالوئ او د غير محفوظ جنسي اړيکو ( د کانډوم پرته ) څخه ډډه وکړئ.




ستاسو د حفاظت لپاره، د خپلو نويو وسايلو څخه ګټه واخلئ او د جنسي اړيکو پر مهال له کانډوم څخه ګټه پورته کړئ.




خو تاسو کولی شئ پرته له کومې ستونزې د يو کس سره يوځای واوسېږئ، ښکل يې کړئ، لاس ورکړئ او د اوبو ګېلاس ورسره شريک کړئ او يا هم ډوډۍ ورسره وخورئ.

Projet réalisé avec le soutien
du Fonds Dr. Daniël De Conink,
géré par la Fondation Roi Baudouin
© 2024- Tous droits de reproduction réservés The InkLink et I.Care/C. Fourcade

# نن سبا کې د سپین زېړي درملنه کیږي

**Version pachto**

ترڅو دا په ډاګه کړئ چې ناروغ یاست، تاسو باید تشخیص وکړئ. تشخیص د وینې د معاینې له لارې ترسره کیږي. د وینې معاینه په دا ونښايي چې ایا دغه ویروس ستاسو بدن کې کله تېر شوی او کنه.




که چېرې دا ناروغي مو په وینه کې ولیدل شوه، باید نور معاینات هم ترسره شي ترڅو په دې باندې پوه شئ چې اوس خو به مو دا ویروس په بدن کې نه وي.

نن سبا یو داسې درملنه شتون لري چې ډېره موثره ده او ډېر کم جانبي عوارض لري. داسې ګولی دي چې هره ورځ باید د ۲ نه تر ۳ میاشتو پورې باید وخوړل شي. ترڅو د صحت پیدا کولو چانس مو لا ډېر شي، دوا هره ورځ په ټاکلي وخت وخورئ او ټوله دوا مو خلاصه کړئ.







حتی که شراب او نشه یی توکي هم استعمالوو، موږ کولئ شو دا درملنه ترلاسه کړو.

له رغېدو وروسته د بیا ځل اخته کېدو امکان هم شته. نو د خپل ځان ساتنه وکړئ او د ډاکټر یا نرس څخه وغواړئ چې په دوامدار ډول مو تشخیص وکړي.

Projet réalisé avec le soutien
du Fonds Dr. Daniël De Conink,
géré par la Fondation Roi Baudouin
© 2024- Tous droits de reproduction réservés The InkLink et I.Care/C. Fourcade
Ce flyer peut être téléchargé ici : https://www.i-careasbl.be/outils-vhc